# د پښتو ژبې د داوړوالې، اورکزي او بنګښ لهجو د لُغاتو پرتلیزه مطالعه

# A Comparative Lexical Study of Pashto Dialects (Dawarwala, Orakzai, Bangash)

Issn 2304-1463

Muhammad Tahir Khan (Tahir Dawar) محمد طاهر خان (طاهر داوړ)

Clinical Technician (Pathology) Bannu Medical College, Bannu

tahirdawarbmc@gmail.com

Dr Bushra Khatoon

Assistant Professor Pashto Academy University Of Peshawar

drbushra@uop.edu.pk

**ABSTRACT:**

Linguists define a dialect as a dialect that is spoken in a particular tribe, a particular region, or a particular community, and the language has special phonology, grammar and vocabulary, so it is called a dialect.

So here we also study a part of the dialects mentioned in the title before the definition of the dialect, i.e. the comparison of vocabulary. Because these three tribes are basically a Karlani tribe, but this tribe is further divided into smalls tribes. Of which half comes in the descendant of Kaki and half comes in the descendant of Kudi. In this division of Karlani tribes, Dawar, Orakzai and Bangash also come Dawar is considered to be a descendant of Kaki, and Orakzi and Bangash are considered to be descendant of Kudi, that is, there is a strong relationship between Dawar, Orakzi and Bangash.

Therefore, we also considered it necessary to determine the linguistic relationship between these three tribes that how many matches and mismatches there are in their conversation, from this lexical study of the languages of Dawars, Oraks and Bangash, we will also know the linguistic relationship of these tribes apart from their Ancestry relationship.

## لُغاتیات/ویپوهنه/ واژه شناسي (Lexicology):

لکه څنګه چې د نورو بېلابېلو مضمونونو ځان له يو علم وي هم دغسې د ويېونو او لُغاتو هم خپل دے چې هغې ته پهٔ عامه اصطلاح کښې ويېپوهنه، واژه شناسي، لُغاتياتو ته پهٔ انګريزي کښې (lexicology) وئېله شي پهٔ ويېپوهنه يا لُغاتياتو کښې د ويېونو يا لُغاتونو (words) مطالعه کوله شي پهٔ دې مطالعه کښې دا کتله شي چې پهٔ يوه ژبه يا لهجه کښې ويېونه يا لُغاتونه څومره د هغې ژبې يا لهجې ځانګړتيا لري او څومره د نورو ژبو يا لهجو نه ورته را ننوتلي دي پهٔ يوه ژبه يا لهجه کښې ويېونه يا لُغاتونه کومې معنې لري او پهٔ نورو ژبو يا لهجو کښې کومې معنې لري ځکه چې پهٔ نړۍ يا يولنه کښې کښې د بېلابېلو ژبو يا لهجو خلق پهٔ يو ځاے ژوند کوي او د يو بل سره لکه څنګه چې دا خلق د يو بل سره د ژوند پهٔ بېلابېلو اړخونو کښې مربوط وي هم دغسې دا خلق پهٔ لساني توګه هم د يو بل سره پهٔ بېلابېلو ژبو يا لهجو کښې مربوط وي نو بيا لکه څنګه چې د دوي پهٔ ژبو يا لهجو کښې ربط وي نو ښکاره خبره ده چې د دې خلقو پهٔ ژبو يا لهجو باندې به هم د يو بل خامخه اثر وي نو پهٔ يو بل باندې د ژبو يا د لهجو د اثر له وجې به پهٔ ويېونو يا لُغاتو هم ښکاره اثر وي چې پهٔ نتيجه کښې به ئې اخطلاط هم ضرور وي لکه څنګه چې مونږ مخکښې ووئېل چې د لُغاتو علم ته ويېپوهنه/ واژه شناسي (lexicology) وائي ډاکټر مجاور احمد زيار د ويېپوهنې تعريف داسې کړے دے:

> ''ويېپوهنه (علم الغته) د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د يوې ژبې يا ژبو ويېونه څېړي مانا ئې دا چې د ويېپوهنې يوون واحد-ويى دے او پهٔ دې ډول د دغه ژبني توکي پهٔ تړاو ګردې خبرې له بشپړه سپړاوي او پراخو بېلګو او ډلبنديو سره تر څېړنې لاندې نيسي د يوې ژبې د ويېپانګې ټوليز رغښت او تاريخي، ادلون بدلون او پهٔ پاے کښې د ويى جوليز، پښوييز، مانيز او چال چلند څېړنه رانغاړي'' (۱)

ويېپوهنې د لُغاتيات هم وئېلے شي چې پهٔ دې کښې د يوې ژبې د لُغاتو پانګه بيانولې شي پهٔ دې کښې دا کتلے شي چې پهٔ څېړونکې ژبه کښې خپل لُغاتونه څومره دي او د نورو ژبو لُغاتونه

څومره دي پهٔ دې لُغاتونو کښې د يوې خاص ژبې يا لهجې ځانګړتيا څومره ده او د نورو ژبو يا لهجو سره ئې ګډون څومره دے ځکه چې يوې ژبې يا لهجې ته لُغاتونه د علم پهٔ ذريعه، د تهذيب پهٔ ذريعه، د ثقافت پهٔ ذريعه، معاش او معاشرې پهٔ ذريعه، د ادب پهٔ ذريعه، مذهب پهٔ ذريعه او د سياست پهٔ ذريعه را ننوځي د ويپپوهنې يا لُغاتياتو مفهوم ډاکټر بُشرى اکرام داسې بيان کړے دے:

"د توضيحي ژبپوهنې پهٔ دې اړخ کښې د يوې ژبې د لفظونو پهٔ سرمايه بحث کولے شي دا چې پهٔ يوه ژبه کښې د لفظونو شمېره څومره ده او د دې لفظونو نوعيّت څهٔ دے مطلب دا چې آيا دا لفظونه د دې ژبې خپل سوچه لفظونه دي که د نورو ژبو نه اخستي شوي دي او که چرې د نورو ژبو نه اخستے شوي دي نو هغه کومې ذريعې دي د کومو پهٔ ذريعه چې دا لفظونه دې ژبې ته را ننوتي دي پهٔ لُغاتياتو کښې د مقامي لفظونو او د بهرنو ژبو نه اخستو شويو ټولو لفظونه تناسب او توازن باندې بحث کولے شي" (۲)

کله چې د يوې ژبې او لهجې پهٔ ويپونو يا لُغاتونو باندې خبره کيږي نو پهٔ دې کښې به دا هم کتلے شي چې لفظونه جوړيږي څنګه او لفظونه پېدا کيږي څنګه او دا هم کتلے شي چې د يوې ژبې لفظونه پهٔ نورو ژبو يا لهجو کښې کومې معنا لري پوهنيار رحمان الله قانع د ويپپوهنې تعريف داسې کوي:

"پهٔ عمومي توګه داسې وئېلے شو: ويپپوهنه هغه علم دے چې لُغتونه او دې پورې اړوند مسائل تر څېړنې لاندې نيسي يا ويپپوهنه د ويى څخه بحث کوي" (۳)

د پاسنے چې کوم بحث مونږ وکړو دا د د لُغاتو د علم پهٔ حقله وهٔ چې وضاحت او بيانول ئې ضروري وو ځکه چې د ويپونو يا د لُغاتو علم لرګران دے پهٔ دې باندې پوهېدل د عام سړي کار

نۀ دے د دې پاره د بېلابېلو لُغاتو د مطالعې ضروت وي او بيا د يوې ژبې يا لهجې د لُغاتونو راغونډول لا ګران کار دے ځکه خو د دې د لُغاتو د څېړنو نه اکثر ليکوالان ډډه کوي

## د لُغت معنا او تعريف:

لُغت چې جمع ئې لُغات ده پۀ لفظي معنا کښې ژبه، فرهنګ، او وئېلو ته لُغت وائېل شي او پۀ عامه اصطلاح کښې د يوې ژبې يا لهجې ګرانو او مشکلو ټکيو ته لُغت يا لُغات وائېل کيږي د يوې ژبې او يا د ژبې پۀ لهجه څۀ نه څۀ خامخه داسې ټکي وي چې هغه پۀ نورو ژبو او يا لهجو کښې نۀ وي بلکه پۀ ځانګړي ډول پۀ يوه خاص لهجه کښې استعماليږي چې د ژبې او يا د لهجې ځانګړتيا ورسره معلوميږي لُغات هغه ګران ټکي وي چې پۀ يوه ژبه او يا لهجه کښې يو شي ته يوټکے استعماليږي او پۀ بله لهجه کښې هغه شي بل ټکے استعماليږي پۀ عامو خبرو کښې د يوې بلې پۀ لهجو ګران والے هم اکثر لُغات پېدا کوي ځکه چې د ځانګړيولُغاتو پۀ وجه عام خلق د يو بل خبرو باندې سم پوهيږي که د چرته د يوې ژبې او يا لهجې پۀ لُغاتو باندې ښوک پوهيږي نو هغوي ته بيا پۀ بله لهجه باندې پوهېدل اسان وي د لُغاتو د اهميَت پۀ حقله فريد صحرائي داسې وائي:

> ''عام مقبوليَت لرونکے يو معياري مستند لرونکے لُغت د يوې ژوندۍ ژبې د پاره دومره جوت دے چې زيات تفصيل ته حاجت نۀ لري د رسم الخط، املا، هېجې، تلفظ او د ګرامر ضروري او بنيادي اصول تر يو مستند معيار رسول د يوې ژبې ارتقائي ودې د پاره بنيادي حثيَت لري او دا محض د يو مستند لُغت پۀ ذريعه کېدے شي'' (۴)

دا حقيقت دے د چې لُغاتو راغونډول ډېر ګران کار دے او بيا د يو داسې خوارې وارې ژبې لکه پښتو چې ګڼ شمېر لهجې لري نو د دې خو بيا نوره هم زيات ګران کار دے خو دا کار هغه کس کولے شي ښوک چې پۀ ځان شپه او ورځ يوه کړي که مونږ فکر وکړو نو د نظم او نثر کتابونو پۀ

نسبت په لُغاتو یا ډکشنریو باندې لږو خلقو زړونه خوارلي دي او کار ئې پرې کړے دے ځکه چې د لُغاتو راغونډول او بیا د هغه د یوې خاص ژبې یا لهجې سره تړل یعنې معلومول هم ځان ځان له یو ښهٔ محنت غواړي ځکه چې د یوې ژبې د پرمختګ او پراختیا پته د لُغاتو نه لګي یعنې د یوې ژبې په معیار او اهمیّت کښې د لفظونو د ذخیرې وي لکه څنګه چې د یوې ژبې په پرمختګ او وسعت کښې د الفاظو د کردار اهمیّت پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر صاحب داسې ښودلے دے:

"د یوې ژبې د پراختیا او پرمختیا تعیّن له دې څخه په اسانه کیږي چې د هغه ژبې د الفاظو ذخیره څومره ده او د هغې ژبې لُغات او اصطلاحات د عصري علومو و فنونو او د ټولنې احساساتو او جذباتو سره موافقت لري او که نا، هغه ژبې چې د الفاظو لمن ئې پراخه او د زمانې سره د موافقت د پېدا کولو صلاحیّت لري، هغه ژوندۍ او مترقي ژبې بلل کیږي د دې په اړوند چې د الفاظو پانګه ئې ټیټه، د راکړې ورکړې استعداد په کښې کم او اشتقاقاتو لمن ئې تنګه وي کمزورې او د ټیټې درجې ژبې بللې شي" (۵)

د لُغت معنا او مفهوم مونږ په لنډو ټکیو کښې بیانوو نو مونږ دا وئېلے شو چې لُغت د لفظونو ذخیرې ته وئېلے شي ډاکټر مجاور احمد زیار د لُغت یا ویپانګې تعریف داسې کړے دے:

"ویپانګه یا وییزېرمه تش د (دود) له مخې د یوې ژبې د- ازادو ګړونو (مورفیمونو) په نورو ټکو، د وییونو (لُغتونو) ټولګې ته وائي، که نه، له ژبپوهنیز پلوه ګرد درېګوني ډوله (ازاد، نیم ازاد او تړلي) ګړونه په ګډه یوه ټولګه رغوي" (۶)

د لُغت په حقله مونږ دا هم وئېلے شو چې د یوې ژبې یا لهجې یو ټکے په ټولو نه واړه معنا ولري هغه لُغت دے لکه څنګه چې پوهنیار رحمان الله قانع د ویی یا لُغت په حقله داسې وئېلي دي:

''ويی (لُغت) د ويیپوهنې واحد دے او د ژبې تر ټولو کوچنے مهنا لرونکي کلمه ده که تجزيه شي خپله معنا له لاسه ورکوي همدارنګه ويی، لُغت، لفظ او کلمه هغه شکلونه دي، چې ورسره ورته معنا لري او د يو مفهوم لپاره استعماليږي، خو خو پۀ هم دومره توپير سره چې ويی پښتو کره شکل دے، لُغت د معنا لرونکي واحد لپاره وضع شوي کلمه ده، لفظ هغه دے چې شکلي بڼه ولري او مفهوم ادا کړي او کلمه پۀ عمومي توګه د معناذ لرونکي څيز لپاره استعماليږي'' (۷)

پۀ يو ژبه يا لهجه کښې لُغت هم پۀ دوه رنګه وي لکه څنګه چې صديق الله ريشتين داسې ښودلي دي:

''هغه لُغتونه او کلمې چې پۀ يوه ژبه کښې استعماليږي د معنا او مفهوم له مخې پۀ دوو ډولو وېشل کيږي: د ژبې اصلي لُغات او مستعار لُغات '' (۸)

صديق الله ريشتين د اصلي لُغاتو او مستعار لُغاتو بيا مزيدپۀ تفصيل سره بيان کړي دي دغه چې مونږ ئې دلته پۀ خپلو ټکيو بيانوو

اصلي لُغات هغه لُغات دي کوم چې د يوې ژبې خلقو پۀ خپله وضع کړي وي د نورو ژبې نه ئې نۀ وي اخستي، د دې اصلي لُغاتو بيا مزيد نور قسمونه دي اول هغه لُغات (غېر مشترک) چې تش يوه معنا لري د کومې بلې معنې د پاره نۀ استعماليږي لکه (منګي، سړي، لرګي او نور)، دويم هغه لُغات چې د دوو معنو د پاره استعماليږي لکه (ډنګر، لور، کوټه او نور)، دريم هغه لُغات (مترادف) چې يو ټکے د دوو، دريو لُغاتو يوه ګډه معنا و لري لکه (تندے، تنده، وچولے او نور)، څلورم هغه لُغات (نوي لُغات) چې تعليم يافته او علمي خلقو د وجې نه پۀ خلقو کښې خور شوي وي لکه (نندارتون، پوهنتون، ښونځے، پوهنځے او نور)، او مستعار لُغات هغه لُغات وي چې

يوې ژبې ته د نورو ژبو نه را اخستل شوي وي دا لُغات هم مزيد بيا نور قسمونه لري چې پۀ دې کښې اول هغه لُغات (دخيل) دي چې د لفظي او معنوي بدلون د وجې نه يوې ژبې ته را ننوځي او استعماليږي لکه (حاکم، وکيل، حکم، قلم او نور ) ، دويم هغه لُغات دي چې له معنوي بدلون پرته د لفظ له مخې ئې هم زيات بدلون موندلے وي لکه (اودس، ښار، وخت او خلق)، دريم هغه لُغات دي چې د مهنا او لفظ دواړو له مخې ئې بدلون موندلے وي لکه (اورت/عورت او نور)، او څلورم هغه لُغات دي چې پۀ ژبه کښې پۀ مخلوطه توګه استعماليږي يعني يو توکے ئې د اصلي او بل توکے ئې د بلې ژبې جوړ وي لکه (قارجن، کبرجن او نور)

تر دې ځايه د پاس چې مونږ کوم بحث وکړو دا د لُغاتيات/ويپوهنه/ واژه شناسي (Lexicology) او د لُغت معنا او تعريف پۀ حقله وو چې مطلب ئې د لُغاتو او د لُغاتو د علم پېژندنه وه د دې پس مونږ اوس لاندې خپلې اصلي موضوع طرف ته را ځو کوم چې زمونږ بنيادي مقصد دے

## د پښتو ژبې د داوړوالې، اورکزي او بنګښ لهجو د لُغاتو پرتليزه مطالعه:

دلته مونږ د داوړو، اورکزيو او بنګښو لهجو د لُغاتو مطالعه ځکه ضروري وګڼله چې د دې درې واړو قبيلو پۀ منځ کښې خو نسبي رشته معلومه ده خو د دوي پۀ منځ ژبنۍ لغوي رشته تر اوسه پورې چا نۀ دۀ معلومه کړې د دې وجې مونږ دا هڅه کوو چې د د دې درې واړو قبيلو پۀ منځ کښې د نسبي رشتې سره سره ژبنۍ لغوي رشته هم معلومه شي دلته به مونږ دا کوشش کوو چې د دې دريو واړو لهجو هغه لُغاتونه مونږ بيان کړو کوم چې زمونږ د عام پۀ روزمره ژوند کښې استعماليږي تر خپله وسه به مونږ پوره پوره کوشش کوو چې پۀ مقاله کښې مونږ د دې دريو واړو لهجو د ډېرو لُغاتونو مطالعه وکړو ځکه چې د دې سره به زمونږ پۀ معلوماتو کښې به ډېره اضافه وشي کله چې مونږ دا لُغات بيانوو نو د دې پاره به مونږ يو مخصوص ټېبل جوړوو او بيا دا لُغاتونه پۀ ليک ژبه کښې هم بيانوو هغه د دې پاره چې هغه خلق هم پرې پوهه شي کوم چې د دې لهجو نه نا خبر دي

کله چې مونږ د دې دریو وارو لهجو لُغات بیانوو نو دا به مونږ بیا پۀ رومن ټرانسکرپشن کښې هم د international phonetic association (IPA) علاموتونو پۀ مطابق هم لیکو چې د تلفظ پۀ ادائیګي کښې ئې اسانتیا وي د دې international phonetic association (IPA) علاموتونو ټېبل دا لاندینے دے

<u>**Transliteration (IPA) Table**</u>

| ببواک غږونه (consonants) | | | غبرګ غږونه (Diphthongs) | خپلواک غږونه (vowels) |
|---|---|---|---|---|
| l ل | ɖ ډ | b ب | iw یو | ɑ ا |
| m م | r ر | p پ | ew ېو | a زور |
| n ن | ĭ ړ | t ت | aw او | ə زورکۀ |
| ɳ ڼ | z ز | ʈ ټ | āw آو | i خرګنده ي |
| W نیم خپلواک و | ʒ ژ | ʤ ج | əw ؤ | o اوږد و |
| Y نیم خپلواکه ي | ʐ ږ | ʧ چ | ʹɑi ے | u لنډ و |
| | s س | x خ | i ي | e ې |
| | ʃ ش | ʦ څ | əy ی | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| | اوے uy | څ ʣ | غ ɣ | |
| | ووے oy | د d | ک k | |

د (IPA) ټېبل د جوړولو نه پس اوس مونږ د يادې کړې شويو لهجو د لُغاتو بيانولو طرف ته راځو کوم چې زمونږ بنيادي مقصد دے

۱. پۀ داوړواله، اورکزي او بنګښ لهجو کښې د کور عام استعمال د څيزونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزي لهجه | بنګښ لهجه | د ليک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ټيپک ʈipə′k | توپاک topɑ′k | توپاک topɑ′k | ټوپک ʈopə′k |
| ۲ | ليمه li′ma | لومه lu′ma | لومه lu′ma | لومه lu′ma |
| ۳ | لنده lənda′ | لينده linda′ | لينده linda′ | لينده linda′ |
| ۴ | کاټ kɑʈ | کاټ kɑʈ | کاټ kɑʈ | کاټ kɑʈ |
| ۵ | دېګاي degɑi′ | دېچکاي deʧkɑi′ | دېچکاي deʧkɑi′ | دېګ deg |
| ۶ | رېبز rebə′z | اربز aərbə′z | رېبز rebə′z | جارو ʤɑro′ |
| ۷ | وئېنه wəyna′ | اينه aina′ | شيشه ʃiʃa′ | ائينه aəyna′ |
| ۸ | انګېټې aəngeʈə′y | انګېټې aəngeʈə′y | انګېټې aəngeʈə′y | انګېټې aəngeʈə′y |
| ۹ | بابېزاي bɑ′bezai | بابوزاي bɑ′bozai | بابوزاي bɑ′bozai | بابوزے bɑ′boze |
| ۱۰ | چانې/تالې ʧanə′y/talə′y | چانې ʧanə′y | چانې ʧanə′y | چانې/تالې ʧanə′y/talə′y |
| ۱۱ | شکېر ʃker | شکور ʃkor | شکور ʃkor | شکور ʃkor |
| ۱۲ | بيشتره biʃtara′ | بيشتره biʃtara′ | بيشتره biʃtara′ | بستره bistara′ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | مغژاي/مژغاي məɣʒɑi′/mʒɣɑi′ | مغګواي maɣgwai′ | مغګواي maɣgwai′ | مغږوے maɣʐwa′y |
| ۱۴ | درووزه darwoza′ | دروازه darwaza′ | دروازه darwaza′ | دروازه darwaza′ |
| ۱۵ | شکارۍ ʃkarə′y | شکارۍ ʃkarə′y | شکارۍ ʃkarə′y | شکارۍ ʃkarə′y |
| ۱۶ | تراټۀ traʈə′ | تراټۀ traʈə′ | تراټۀ traʈə′ | تراټۀ traʈə′ |
| ۱۷ | سکورۀ skorə′ | سکارۀ skarə′ | سکارۀ skarə′ | سکارۀ skarə′ |
| ۱۸ | تبر təbə′r | تبر təbə′r | تبر təbə′r | تبر təbə′r |
| ۱۹ | بېلچۀ belʧə′ | بېلچۀ belʧə′ | بېلچۀ belʧə′ | بېلچۀ belʧə′ |
| ۲۰ | بولشت bolə′ʃt | بولخت bolə′xt | بولخت bolə′xt | بالښت balə′ʂt |
| ۲۱ | ګړاي gaĭɑi′ | ګړاي gaĭɑi′ | ګړاي gaĭɑi′ | منګے mange′ |
| ۲۲ | سپټی seʈə′y | سپټاک seʈɑ′k | سپټاک seʈɑ′k | سپټک seʈə′k |
| ۲۳ | انډراي anɖerɑi′ | انډراي anɖerɑi′ | انډراي anɖerɑi′ | انډرے anɖeray |
| ۲۴ | نیولي nyoli′ | نیالي nyɑli′ | نیالي nyɑli′ | نیالي nyɑli′ |
| ۲۵ | نلکۍ nalkə′y | بمبه bamba′ | بمبه bamba′ | نلکه nalka′ |
| ۲۶ | مټۍ maʈə′y | مټکه maʈka′ | مټکه maʈka′ | مټکه maʈka′ |
| ۲۷ | کړتېس kaĭte′s | کارتوس karto′s | کارتوس karto′s | کارتوس karto′s |
| ۲۸ | نالۍ nalə′y | کوکه kuka′ | کوکه kuka′ | کوکه kuka′ |

۲. پۀ داوړواله، اورکزي او بنګښ لهجو کښې د کورني خوراک څخاک څیزونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزي لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | زېمنه ze′mna | نندبال nandbɑ′l | نندابل nandbɑ′l | ترکاري tərkɑri′ |
| ۲ | پۍ/ شلېمبې pəy/ʃle′mbe | پۍ/ تروې pəy tərwe′/ | پۍ/ تروې pəy tərwe′/ | شوملې ʃomle′ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳ | شودې/ شودۀ ʃowde′/ʃowdə′ | ʃode′ شودې | ʃode′ شودې | pəy پۍ |
| ۴ | naɣɑ′n ناغان | naɣɑ′n ناغان | naɣɑ′n ناغان | roʈə′y روټۍ |
| ۵ | mɑste′ ماستې | mɑste′ ماستې | mɑste′ ماستې | masrə′ ماسته |
| ۶ | ɖoɖə′y ډوډۍ | pyɑ′sa پیاڅه | pyɑ′sa پیاڅه | sokĭə′k سکړک |
| ۷ | maĭə′y مړۍ | ʈikɑ′la ټیکاله | ʈikɑ′la ټیکاله | roʈə′y روټۍ |
| ۸ | wri′ʒe وریژې | wri′ʒe وریژې | wri′ʒe وریژې | wri′ʒe وریژې |
| ۹ | ɣeĭi′ غېړي | ɣeĭi′ غېړي | ɣeĭi′ غېړي | ɣwəĭi′ غوړي |
| ۱۰ | اییه/یېیه ai′ya/ye′ya | wo′ya وویه | wo′ya وویه | hagə′y هاګۍ |
| ۱۱ | ɣe′ʃa غېشه | ɣwə′xa غوخه | ɣwə′xa غوخه | ɣwə′ʂa غوښه |
| ۱۲ | اېبۀ/ یېبۀ aebə′/ yebə′ | aobə′ اوبۀ | aobə′ اوبۀ | aobə′ اوبۀ |
| ۱۳ | ʧɑi′ چاي | ʧɑi′ چاي | ʧɑi′ چاي | ʧɑi′ چاے |
| ۱۴ | rangeʃi′ رنګېشي | ranzoxi′ رنزوخي | ranzoxi′ رنزوخي | randʐoʂi′ رنزوښي |
| ۱۵ | pilo′w پیلوؤ | pulɑ′w پُلاؤ | pulɑ′w پُلاؤ | pulɑ′w پُلاؤ |
| ۱۶ | mo′lga مولګه | mo′lga مولګه | mo′lga مولګه | mɑ′lga مالګه |
| ۱۷ | یېړۀ/اېړۀ yeĭə′/aeĭə′ | woĭə′ ووړۀ | woĭə′ ووړۀ | aoĭə′ اوړۀ |
| ۱۸ | ʃarbɑ′t شربات | ʃarbɑ′t شربات | ʃarbɑ′t شربات | ʃarbə′t شربت |
| ۱۹ | kwə′ʧ کوچ | kwə′ʧ کوچ | kwə′ʧ کوچ | kwə′ʧ کوچ |
| ۲۰ | kwə′rxe کورخې | kwə′rxe کورخې | kwə′rxe کورخې | lubyɑ′ لوبیا |

۳. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د وچو لندو مېوو او د ونو بوټو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزی لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | تیت ti′t | توت to′t | توت to′t | توت to′t |
| ۲ | امبریت ambri′t | امبروت ambro′t | امبروت ambro′t | امبروت ambro′t |
| ۳ | پټانګون paʈango′n | پټانګون/ ناشپاتي paʈango′n/ nɑʃpati′ | پټانګون/ ناشپاتي paʈango′n/ nɑʃpati′ | ناشپاتي nɑʃpati′ |
| ۴ | ګورګورې gwə′rgwəre | ګورګورې gwə′rgwəre | ګورګورې gwə′rgwəre | ګورګورې gwə′rgwəre |
| ۵ | الیچه alitʃa′ | لوچه lutʃa′ | لوچه lutʃa′ | الوچه alutʃa′ |
| ۶ | مانړه maɳa′ | مانړه maɳa′ | مانړه maɳa′ | مانړه maɳa′ |
| ۷ | مېلوه me′ləwa | انګور angu′r | انګور angu′r | انګور angu′r |
| ۸ | مندته mandə′ta | مندته mandə′ta | مندته mandə′ta | خورمانۍ xormanə′y |
| ۹ | شوتولاي ʃawtulɑi′ | خاتوراي xaturɑi′ | خاتوراي xaturɑi′ | شلتالو ʃaltalo′ |
| ۱۰ | خجیره xadʒi′ra | کجوره kadʒo′ra | کجوره kadʒo′ra | کجهوره kadʒo′ra |
| ۱۱ | بادوم bɑdo′m | بادوم bɑdo′m | بادوم bɑdo′m | بادام badɑ′m |
| ۱۲ | زڼغېزي zaɳɣezi′ | زڼغوزي zaɳɣozi′ | زڼغوزي zaɳɣozi′ | زڼغېزي tʃalɣozi′ |
| ۱۳ | مټک maʈə′k | غوزون ɣwəzo′n | غوزون ɣwəzo′n | غوزان ɣuzɑ′n |
| ۱۴ | ولنګاي walamgɑi′ | انور ano′r | انور ano′r | انور ano′r |
| ۱۵ | مم پلي mampə′li | پلي pali′ | پلي pali′ | مونګ پهلي mungpə′li |
| ۱۶ | سېږۍ seĭə′y | سېږۍ seĭə′y | سېږۍ seĭə′y | سېږۍ seĭə′y |
| ۱۷ | سروه sə′rwa | سروه sə′rwa | سروه sə′rwa | سروه sə′rwa |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ګل gwə′l | ګل gwə′l | ګل gwə′l | ګل gwə′l |
| ۱۹ | مزراي mazərɑi′ | مزراي mazərɑi′ | مزراي mazərɑi′ | مزرے mazəray |
| ۲۰ | سبړی seĭə′y | سبړی seĭə′y | سبړی seĭə′y | سبړی seĭə′y |

۴. پهٔ داوړواله، اورکزي او بنګښ لهجو کښې د سبزیو نمونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزي لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | میلې milə′y | تېربه terə′ba | تېربه terə′ba | مولې molə′y |
| ۲ | پیوز pyo′z | پیوز pyo′z | پیوز pyo′z | پیاز pyɑ′z |
| ۳ | الیګون aligo′n | لوګون lugo′n | لوګون lugo′n | الوګان alugɑ′n |
| ۴ | ټېپر ʈepə′r | شړشم ʃaĭʃə′m | شړشم ʃaĭʃə′m | ټېپر ʈepə′r |
| ۵ | کوچالي kwəʧɑ′li | کچالون kaʧalo′n | کچالون kaʧalo′n | کچالان kaʧalɑ′n |
| ۶ | چرچنډې ʧarʧə′nɖe | ټینډه ʈinɖa′ | ټینډه ʈinɖa′ | ټینډه ʈinɖa′ |
| ۷ | بدرانګ badrɑ′ng | بدرانګ badrɑ′ng | بدرانګ badrɑ′ng | بدرنګ badrə′ng |
| ۸ | ټامېټر ʈɑmeʈə′r | ټماټر ʈamaʈə′r | ټماټر ʈamaʈə′r | ټماټر ʈamaʈə′r |
| ۹ | تېرې terə′y | توری/تارې torə′y/tɑrə′y | توری/تارې torə′y/tɑrə′y | تورې torə′y |
| ۱۰ | بینډۍ binɖə′y | بینډۍ binɖə′y | بینډۍ binɖə′y | بینډۍ binɖə′y |
| ۱۱ | مټر maʈə′r | مټر maʈə′r | مټر maʈə′r | مټر maʈə′r |
| ۱۲ | کدي kadi′ | کدو kado′ | کدو kado′ | کدو kado′ |
| ۱۳ | جرجیر ʤarʤi′r | جرجیر ʤarʤi′r | جرجیر ʤarʤi′r | جرجیر ʤarʤi′r |
| ۱۴ | سوبهٔ sobə′ | پلک palə′k | پلک palə′k | پلک palə′k |

۵. په داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د رشتو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | nikə′ نيکۀ | nikə′ نيکۀ | nikə′ نيکۀ | nikə′ نيکۀ |
| ۲ | nyo′ نيو | anyɑ′ انيا | anyɑ′ انيا | nyɑ′ نيا |
| ۳ | plo′r پلور | plɑ′r پلار | plɑ′r پلار | plɑ′r پلار |
| ۴ | me′r مېر | mo′r مور | mo′r مور | mo′r مور |
| ۵ | ʃə′za شزه | xə′za خزه | xə′za خزه | ʂə′ʤa ښځه |
| ۶ | zyɑi′ زياي | zwɑi′ زواي | zwɑi′ زواي | zo′y زوے |
| ۷ | li′r لير | lo′r لور | lo′r لور | lo′r لور |
| ۸ | wre′r ورېر | wro′r ورور | wro′r ورور | wro′r ورور |
| ۹ | wandyɑ′r وندیار | wandyɑ′r وندیار | wandyɑ′r وندیار | wrandɑ′r ورندار |
| ۱۰ | waryarə′ وريارۀ | wrarə′ ورارۀ | wrarə′ ورارۀ | wrarə′ ورارۀ |
| ۱۱ | wrera′ ورېره | wrara′ وراره | wrara′ وراره | wrara′ وراره |
| ۱۲ | xe′r خېر | xo′r خور | xo′r خور | xo′r خور |
| ۱۳ | xwaryə′y خوريئ | xwuri′ خوري | xwuri′ خوري | xwuri′ خوري |
| ۱۴ | xurzə′ خورزۀ | xurzə′ خورزۀ | xurzə′ خورزۀ | xurzə′ خورزۀ |
| ۱۵ | nʒe′r نژېر | ngo′r نګور | ngo′r نګور | ango′r انګور |
| ۱۶ | lmasɑi′ لمساي | lmasɑi′ لمساي | lmasɑi′ لمساي | nmasa′y نمسے |
| ۱۷ | lmasə′y لماسۍ | lmasə′y لماسۍ | lmasə′y لماسۍ | nmasə′y نمسۍ |
| ۱۸ | sxə′r سخر | sxə′r سخر | sxə′r سخر | sxə′r سخر |
| ۱۹ | xu′ʃye خوشئې | xwa′ʂe خواښې | xwa′ʂe خواښې | xwa′ʂe خواښې |
| ۲۰ | اوخشاي | oxɑi′ اوخاي | oxɑi′ اوخاي | o′ʂay اوښے |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | خوشینه xwʃi′na | خینه xi′na | خینه xi′na | ښینه ʂi′na |
| ۲۲ | لېوار lewɑ′r | لېوار lewɑ′r | لېوار lewɑ′r | لېور lewə′r |
| ۲۳ | ترۀ trə′ | ترۀ trə′ | ترۀ trə′ | ترۀ trə′ |
| ۲۴ | تندیار təndɑ′r | تندیار təndɑ′r | تندیار təndɑ′r | چاچي ʧɑʧi′ |
| ۲۵ | ترېر tre′r | ترور tro′r | ترور tro′r | ترور tro′r |
| ۲۶ | ني ni′ | ماما mɑmɑ′ | ماما mɑmɑ′ | ماما mɑmɑ′ |
| ۲۷ | نندیار nandyɑ′r | ممانهي mamɑ′ni | ممانهي mamɑ′ni | مامي mɑmi′ |
| ۲۸ | نندرېر ndre′r | نندرور ndro′r | نندرور ndro′r | نندرور ndro′r |
| ۲۹ | بن bə′n | بن bə′n | بن bə′n | بن bə′n |
| ۳۰ | ئېر ye′r | یور yo′r | یور yo′r | یور yo′r |
| ۳۱ | نندرېر ndre′r | نندرور nəndro′r | نندرور nəndro′r | اندرور aendro′r |

۶. پۀ داوړواله، اورکزي او بنګښ لهجو کښې د بدن اندامونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزي لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سار sɑ′r | سار sɑ′r | سار sɑ′r | سر sə′r |
| ۲ | ویشتۀ wiʃtə′ | ویختۀ wixtə′ | ویختۀ wixtə′ | ویښتۀ wiʂtə′ |
| ۳ | سنډه sə′nɖa | سنډه sə′nɖa | سنډه sə′nɖa | ټنډه ʈə′nɖa |
| ۴ | مخ mə′x | مخ mə′x | مخ mə′x | مخ mə′x |
| ۵ | پېزه pe′za | پېزه pe′za | پېزه pe′za | پوزه po′za |
| ۶ | خولۀ xwlə′ | خولۀ xwlə′ | خولۀ xwlə′ | خولۀ xwlə′ |
| ۷ | ورشنډې warʃə′nɖe | شونډې ʃu′nɖe | شونډې ʃu′nɖe | شونډې ʃu′nɖe |
| ۸ | زنئې zə′nye | زني zə′ni | زني zə′ni | ځنه ʣə′na |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۹ | ɣe′ʒ غېږ | ɣwe′g غوېګ | ɣwe′g غوېګ | ɣwə′z غوږ |
| ۱۰ | lu′s لوس | lu′s لوس | lu′s لوس | lɑ′s لاس |
| ۱۱ | sangə′l سنګل | sangə′l سنګل | sangə′l سنګل | ʦangə′l څنګل |
| ۱۲ | gwə′ta ګوته | gwə′ta ګوته | gwə′ta ګوته | gwə′ta ګوته |
| ۱۳ | ni′k نیک | no′k نوک | no′k نوک | no′k نوک |
| ۱۴ | pʃa′ پشه | pxa′ پخه | pxa′ پخه | pʂa′ پښه |
| ۱۵ | sə′ɳye سنهئي | sə′ɳe سنې | sə′ɳe سنې | ʦə′ɳe څنې |

۷. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د سړو او ښځو د لباس نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | xə′t خت | xə′t خت | xə′t خت | qami′s قمیص |
| ۲ | paĭdi′g پړدیګ | parto′g پرتوګ | parto′g پرتوګ | parto′g پرتوګ |
| ۳ | waskɑ′ʈ واسکاټ | waskɑ′ʈ واسکاټ | waskɑ′ʈ واسکاټ | waskə′ʈ واسکټ |
| ۴ | bane′n بنېن | bale′n بلېن | bale′n بلېن | bune′n بُنېن |
| ۵ | paʈkai′ پټکاي | sadɑ′r سادار | sadɑ′r سادار | paʈkay پټکے |
| ۶ | disto′r دیستور | pɑgĭə′y پاګړۍ | pɑgĭə′y پاګړۍ | dastɑ′r دستار |
| ۷ | lɑngə′y لانګۍ | lungə′y لُنګۍ | lungə′y لُنګۍ | lungə′y لُنګۍ |
| ۸ | pɑgĭə′y پاګړۍ | pɑgĭə′y پاګړۍ | pɑgĭə′y پاګړۍ | pagĭə′y پګړۍ |
| ۹ | ʈepə′y ټیپۍ | ʈopə′y ټوپۍ | ʈopə′y ټوپۍ | ʈopə′y ټوپۍ |
| ۱۰ | saplə′y سپلۍ | keĭə′y کېړۍ | keĭə′y کېړۍ | ʦaplə′y څپلۍ |
| ۱۱ | bo′t بوټ | bo′t بوټ | bo′t بوټ | bo′t بوټ |
| ۱۲ | ʧə′pəl چپل | ʧə′pəl چپل | ʧə′pəl چپل | ʧə′pəl چپل |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ریمول rimo′l | دسمول dəsmo′l | دسمول dəsmo′l | رومال ruma′l |
| ۱۴ | ګانډه gɑ′nɖa | باګه bɑ′ga | باګه bɑ′ga | پرتوغاخ partuɣɑ′x |

۸. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د ښځو د لباس نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | خت xə′t | خت xə′t | خت xə′t | قمیص qami′s |
| ۲ | پړدیګ paĭdi′g | پرتوګ parto′g | پرتوګ parto′g | پرتوګ parto′g |
| ۳ | پټکاي paʈkɑi′ | ټکراي ʈakrɑi′ | ټکراي ʈakrɑi′ | پټکے/پړونې paʈkay/paŭ’ne |
| ۴ | بنبن bane′n | بلبن bale′n | بلبن bale′n | □نبن bune′n |
| ۵ | بیکره bikra′ | بُکره bukra′ | بُکره bukra′ | بُرقعه burqa′ |
| ۶ | بوټ bo′t | بوټ bo′t | بوټ bo′t | بوټ bo′t |
| ۷ | چپل ʧə′pəl | چپل ʧə′pəl | چپل ʧə′pəl | چپل ʧə′pəl |
| ۸ | ریمول rimo′l | دسمول dəsmo′l | دسمول dəsmo′l | رومال rumɑ′l |
| ۹ | ګانډه gɑ′nɖa | باګه/ ګانډه bɑ′ga/ gɑ′nɖa | باګه bɑ′ga | پرتوغاخ partuɣɑ′x |

۹. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د غم او ښادۍ د رسمونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | چیغه ʧi′ɣa | چیغه ʧi′ɣa | چیغه ʧi′ɣa | چیغه ʧi′ɣa |
| ۲ | ننووتئې nanawo′tye | کوژدن koʒdə′n | کوژدن koʒdə′n | کوږدن koʐdə′n |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | ورو /وودهٔ wro′/wo′də | وادهٔ wa′də | وادهٔ wa′də | وادهٔ wa′də |
| ۳ | خوان/نکاح xwɑ′n/nekɑ′h | کوین kawi′n | کوین kawi′n | نکاح nekɑ′h |
| ۴ | جنوزه ʤanuza′ | جنازه ʤanɑza′ | جنازه ʤanɑza′ | جنازه ʤanɑza′ |
| ۵ | سېبات sebɑ′t | سوبات sobɑ′t | سوبات sobɑ′t | سوبات sobɑ′t |
| ۶ | سلوېشتي salweʃti′ | سلوېختي salwexti′ | سلوېختي salwexti′ | څلوېښتي tsalweşti′ |
| ۷ | دریمه drayə′ma | دریمه drayə′ma | دریمه drayə′ma | دریمه drayə′ma |
| ۸ | نمه nə′ma | نمه nə′ma | نمه nə′ma | نهمه nahə′ma |
| ۹ | نکري nakri′ | نکریزې nakri′ze | نکریزې nakri′ze | نکریزې nakri′ze |
| ۱۰ | عید ei′d | عید ei′d | عید ei′d | عید ei′d |
| ۱۱ | ورو تلل wro′ tlə′l | وراسي wrasi′ | وراسي wrasi′ | جنج ʤə′nʤ |
| ۱۲ | ډېلۍ ɖelə′y | ډولۍ ɖolə′y | ډولۍ ɖolə′y | ډولۍ ɖolə′y |
| ۱۳ | شکور ʃko′r | خکور xko′r | خکور xko′r | ښکور şko′r |
| ۱۴ | مېله mela′ | مېله mela′ | مېله mela′ | مېله mela′ |

۱۰. پهٔ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د لوبو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ایکیچاک ai′kiʧak | ایکیچاغ/هانډۍ ai′kiʧaɣ/handə′y | ایکیچاغ/هانډۍ ai′kiʧaɣ/handə′y | ګلي ډنډه gwəliɖə′nɖa |
| ۲ | ناخشه ویشتل nɑ′xʃa wiʃtə′l | ناخکه ویشتل nɑ′xka wiʃtə′l | ناخکه ویشتل nɑ′xka wiʃtə′l | نخښه ویشتل na′xşa wiʃtə′l |
| ۳ | ګولئې go′lye | ګیني gini′ | ګیني gini′ | بېلوري beluri′ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۴ | سخی سخی sxə′y sxə′y | سخی سخی sxə′y sxə′y | سخی سخی sxə′y sxə′y | سخی سخی sxə′y sxə′y |
| ۵ | ګوډی goḍə′y | ګوډی goḍə′y | ګوډی goḍə′y | ګوډی goḍə′y |
| ۶ | کبډي kabəḍi′ | کبډي kabəḍi′ | کبډي kabəḍi′ | کبډي kabəḍi′ |
| ۷ | پټ پټناي pəṭpaṭənɑi′ | پټغونې pəṭaɣo′ne | پټغونې pəṭaɣo′ne | پټ پټونے pəṭpaṭonay |
| ۹ | سرپاټ/چغانډي sarpɑ′ṭ/ʧaɣɑ′nḍi | چیندرو/چغندې ʧindro′/ʧaɣa′nde | چیندرو/چغندې ʧindro′/ʧaɣa′nde | چیندرو ʧindro′ |
| ۱۰ | ډبلی ḍabalə′y | غلو ډبلی ḍabalə′y | غلو ډبلی ḍabalə′y | ډبلی ḍabalə′y |

۱۱. پهٔ داوړواله، اورکزی او بنګښ لهجو کښې د استوګنو ځایونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزی لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | کېر ke′r | کور ko′r | کور ko′r | کور ko′r |
| ۲ | ایجره aidʒra′ | اوجره aodʒra′ | اوجره aodʒra′ | حُجره hudʒra′ |
| ۳ | کېټه keṭa′ | کوټه koṭa′ | کوټه koṭa′ | کوټه koṭa′ |
| ۴ | ساتهٔ/برنډه Sɑtə′/baranḍa′ | برنډه baranḍa′ | برنډه baranḍa′ | برامده baramda′ |
| ۵ | سابوت sabo′t | مانړی mɑṇə′y | مانړی mɑṇə′y | ډېری ḍerə′y |
| ۶ | ټپي ṭapi′ | ټپو ṭapo′ | ټپو ṭapo′ | بُرجل burdʒə′l |
| ۷ | مونړی moṇə′y | مانړی mɑṇə′y | مانړی mɑṇə′y | مانړی mɑṇə′y |
| ۸ | دیکون diko′n | دوکان dokɑ′n | دوکان dokɑ′n | دوکان dokɑ′n |
| ۹ | بازور bazo′r | بازور bazo′r | بازور bazo′r | بازار baza′r |

۱۲. پهٔ داوړواله، اورکزی او بنګښ لهجو کښې د موسمونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سپرلاي sparlɑi′ | پسرلاي/ سپرلاي pasarlɑi′/ sparlɑi′ | پسرلاي/ سپرلاي pasarlɑi′/ sparlɑi′ | سپرلے sparlay |
| ۲ | مناي mə′nɑi | مناي mə′nɑi | مناي mə′nɑi | منے mə′nay |
| ۳ | ژماي ʒəmɑi′ | ژماي ʒəmɑi′ | ژماي ʒəmɑi′ | ژمے ʒəmay |
| ۴ | وېړاي weĭɑi′ | وېړاي weĭɑi′ | وېړاي weĭɑi′ | وېړے woĭay |

۱۳. پهٔ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د وختونو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ګائیز gɑi′z | سبائي sabayi′ | سبائي sabayi′ | سحر sahə′r |
| ۲ | سابو sɑbo′ | سبا sabɑ′ | سبا sabɑ′ | سبا sabɑ′ |
| ۳ | غرمه ɣarma′ | غرمه ɣarma′ | غرمه ɣarma′ | غرمه ɣarma′ |
| ۴ | مشپشین/ مسپشین məspaʃi′n | مسپخین məspexi′n | مسپخین məspexi′n | مسپښین məspaʂi′n |
| ۵ | موزدیګار mozdigɑ′r | مزدیګار məzdigɑ′r | مزدیګار məzdigɑ′r | مازدیګر mazdigə′r |
| ۶ | ماشوم maʃo′m | ماخوم maxo′m | ماخوم maxo′m | ماښام maʂɑ′m |
| ۷ | وېګا wega′ | بېګا bega′ | بېګا bega′ | بېګا bega′ |
| ۸ | ماسخېتان mɑsxetɑ′n | ماسخوتان mɑsxotɑ′n | ماسخوتان mɑsxotɑ′n | ماسخوتن mɑsxotə′n |
| ۸ | پړشماي paĭʃamɑi′ | پرشماي parʃamɑi′ | پرشماي parʃamɑi′ | پېشمناي peʃmanɑi′ |
| ۹ | وریز wre′z | وریز wre′z | وریز wre′z | ورځ wrə′ʤ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ʃpa′ شپه | ʃpa′ شپه | ʃpa′ شپه | ʃpa′ شپه |

۱۴. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د ورځو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | awɑ′l اوال | خیالي/تشه xyɑli′/təʃa | خیالي/تشه xyɑli′/təʃa | hafta′ هفته |
| ۲ | dwayɑ′m دویام | aetwo′r اتوور | aetwo′r اتوور | aetwɑ′r اتوار |
| ۳ | drayɑ′m دریام | drayɑ′m دریام | drayɑ′m دریام | gwə′l ګل |
| ۴ | سلورام salwarɑ′m | سلورام salwarɑ′m | سلورام salwarɑ′m | nə′he نهې |
| ۵ | pinzɑ′m پینزام | pinzɑ′m پینزام | pinzɑ′m پینزام | ʧɑrʃanba′ چارشنبه |
| ۶ | ʃpeʒɑ′m شپېژام | ʃpegɑ′m شپېګام | ʃpegɑ′m شپېګام | zyarə′t زیارت |
| ۷ | ʤima′ جیمه | ʤuma′ جُمه | ʤuma′ جُمه | ʤuma′ جُمعه |

۱۵. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د مرغیو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | marɤə′y مرغۍ | marɤə′y مرغۍ | marɤə′y مرغۍ | marɤə′y مرغۍ |
| ۲ | brageʈi′ براګېټي | brageʈi′ براګېټي | brageʈi′ براګېټي | brageʈi′ براګېټي |
| ۳ | بلبل/ بلبله babə′l/ babə′la | بلبل/ بلبله babə′l/ babə′la | بلبل/ بلبله babə′l/ babə′la | بلبل/ بلبله babə′l/ babə′la |
| ۴ | serɽi′ سېرړي | sorɽi′ سورړي | sorɽi′ سورړي | sorɽi′ سورړي |
| ۵ | ʈaɤaki′ ټغکي | ʈaɤə′k ټغک | ʈaɤə′k ټغک | ʈaɤə′k ټغک |
| ۶ | sisə′y سیسۍ | sisə′y سیسۍ | sisə′y سیسۍ | sisə′y سیسۍ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۷ | زرک/زرکه zə′rk/zə′rka | زرک/زرکه zə′rk/zə′rka | زرک/زرکه zə′rk/zə′rka | زرک/زرکه zə′rk/zə′rka |
| ۸ | سنزراي sanzə′rɑi | سنزراي sanzə′rɑi | سنزراي sanzə′rɑi | تنزرے tanzə′ray |
| ۹ | بټئېر baʈye′r | بټېر baʈe′r | بټېر baʈe′r | بټېر baʈe′r |
| ۱۰ | چرچڼه ʧarʧə′ɳa | چرچڼه ʧarʧə′ɳa | چرچڼه ʧarʧə′ɳa | چرچڼه ʧarʧə′ɳa |
| ۱۱ | مئیناکه mə′ynɑka | مېناکه menɑka | مېناکه menɑka | مېناکه menɑka |
| ۱۲ | چرګ/چرګه ʧə′rg/ʧə′rga | چرګ/چرګه ʧə′rg/ʧə′rga | چرګ/چرګه ʧə′rg/ʧə′rga | چرګ/چرګه ʧə′rg/ʧə′rga |
| ۱۲ | چتکاي ʧə′tkai | چتي ʧə′ti | چتي ʧə′ti | چتي ʧə′ti |

۱۶. پۀ داوړواله، اورکزۍ او بنګښ لهجو کښې د حلالو ځانورو نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | مشه mə′ʃa | مخه mə′xa | مخه mə′xa | مښه mə′ʂa |
| ۲ | غویون ɣuyo′n | غوایان ɣwayɑ′n | غوایان ɣwayɑ′n | غوایان ɣwayɑ′n |
| ۳ | پسۀ psə′ | پسۀ pasə′ | پسۀ pasə′ | پسۀ pasə′ |
| ۴ | زانور zanawə′r | ډنګر ɖangə′r | ډنګر ɖangə′r | ځانور ʥanawə′r |
| ۵ | وزه wza′ | وزه wza′ | وزه wza′ | بزه bza′ |
| ۶ | مئېږ mye′ʒ | مېګ me′g | مېګ me′g | ګډه gə′ɖa |
| ۷ | کاب kɑ′b | مېشۍ meʃə′y | مېشۍ meʃə′y | ماهي mɑhi′ |
| ۸ | سخاي/سخۍ sxɑi′/sə′y | سخاي/سخۍ sxɑi′/sə′y | سخاي/سخۍ sxɑi′/sə′y | سخاي/سخۍ sxɑi′/sə′y |
| ۹ | ایش ai′ʃ | اوخ ao′x | اوخ ao′x | اوښ ao′ʂ |
| ۱۰ | خار xɑ′r | خار xɑ′r | خار xɑ′r | خر xə′r |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | ماژ mɑ′ʒ | ماګ mɑ′g | ماګ mɑ′g | ګډ gə′ɖ |
| ۱۲ | سیه sə′ya | سویه su′ya | سویه su′ya | سویه su′ya |

۱۷. پهٔ داوړواله، اورکزی او بنګښ لهجو کښې د فصلونو او ورسره متعلقه نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزی لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | غنم ɣanə′m | غنم ɣanə′m | غنم ɣanə′m | غنم ɣanə′m |
| ۲ | جیوور dʒiwo′r | جیوور/جیوار dʒiwo′r/dʒiwɑ′r | جیوور/جیوار dʒiwo′r/dʒiwɑ′r | جُوار dʒuwɑ′r |
| ۳ | شوتاله ʃawtɑ′la | شمتاله ʃamtɑ′la | شمتاله ʃamtɑ′la | شوتاله ʃutɑ′la |
| ۴ | وربشې warbə′ʃe | وربشې warbə′ʃe | وربشې warbə′ʃe | اوربشې aorbə′ʃe |
| ۵ | شېلې ʃe′le | شولې ʃo′le | شولې ʃo′le | شولې ʃo′le |
| ۶ | وېژای weʒɑi′ | وېګای wegɑi′ | وېګای wegɑi′ | وېږای weʐɑi′ |
| ۷ | تخم təxə′m | تخمن ʈəxmə′n | تخمن ʈəxmə′n | تُخم tuxə′m |
| ۸ | غېبال ɣebɑ′l | غوبال ɣobɑ′l | غوبال ɣobɑ′l | غوبل ɣobə′l |
| ۹ | ووشهٔ woʃə′ | واخهٔ waxə′ | واخهٔ waxə′ | واښهٔ waʂə′ |
| ۱۰ | ګېډۍ geɖə′y | ګېډۍ geɖə′y | ګېډۍ geɖə′y | ګېډۍ geɖə′y |
| ۱۱ | لاؤ lɑ′w | لاؤ lɑ′w | لاؤ lɑ′w | لؤ lə′w |
| ۱۲ | نول no′l | نال nɑ′l | نال nɑ′l | نال nɑ′l |

۱۸. پهٔ داوړواله، اورکزی او بنګښ لهجو کښې صفتي نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزی لهجه | بنګښ لهجه | د لیک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | جاوات dʒawɑ′t | جاوات dʒawɑ′t | جاوات dʒawɑ′t | ښکاره xkɑra′ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | چګ ʧə′g | جګ ʤə′g | جګ ʤə′g | لوړ lwə′ɽ |
| ۳ | لوندې lu′nde | لاندې lɑ′nde | لاندې lɑ′nde | لاندې lɑ′nde |
| ۴ | وریه wərya′ | ورایه wraya′ | ورایه wraya′ | لرې lə′re |
| ۵ | پېست pe′st | پوست po′st | پوست po′st | نرم nərə′m |
| ۶ | ساخت sɑ′xt | ساخت sɑ′xt | ساخت sɑ′xt | سخت sə′xt |
| ۷ | غوټ ɣwə′ʈ | غوټ ɣwə′ʈ | غوټ ɣwə′ʈ | غټ ɣə′ʈ |
| ۸ | خېږ xe′ʒ | خوګ xo′g | خوګ xo′g | خوږ xo′ʐ |
| ۹ | زېړ ze′ɽ | زوړ zo′ɽ | زوړ zo′ɽ | زوړ zo′ɽ |
| ۱۰ | درین dri′n | درون dru′n | درون dru′n | دروند dru′nd |
| ۱۱ | سېړ se′ɽ | سوړ so′ɽ | سوړ so′ɽ | سوړ so′ɽ |
| ۱۲ | تېو te′w | تود to′d | تود to′d | تود to′d |
| ۱۳ | وېړ we′ɽ | ووړ wo′ɽ | ووړ wo′ɽ | ووړ wo′ɽ |
| ۱۴ | پټ pə′ʈ | پټ pə′ʈ | پټ pə′ʈ | پټ pə′ʈ |
| ۱۵ | پېخ pe′x | پوخ po′x | پوخ po′x | پوخ po′x |
| ۱۶ | ایم ai′m | اوم au′m | اوم au′m | اوم au′m |
| ۱۷ | وچ wə′ʧ | وچ wə′ʧ | وچ wə′ʧ | وچ wə′ʧ |
| ۱۸ | توند to′nd | توند to′nd | توند to′nd | تاند tɑ′nd |
| ۱۹ | شۀ ʃə′ | خۀ xə′ | خۀ xə′ | ښۀ ʂə′ |
| ۲۰ | باد bɑ′d | باد bɑ′d | باد bɑ′d | بد bə′d |
| ۲۱ | تریخ tri′x | تریخ tri′x | تریخ tri′x | تریخ tri′x |
| ۲۲ | تریو tri′w | ټوک ʈo′k | ټوک ʈo′k | تروش tru′ʃ |

۱۹. پۀ داوړواله، اورکزي او بنګښ لهجو کښې د ضمیر نومونه:

| شمېره | داوړواله لهجه | اورکزۍ لهجه | بنګښ لهجه | د ليک ژبه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | اې مو aemo′ | اې مو / اې ما aemo′/aema′ | اې مو / اې ما aemo′/aema′ | زما zama′ |
| ۲ | ميږ mi′ʒ | مو mo′ | مو mo′ | مونږ mo′nʐ |
| ۳ | اې تو aeto′ | اې تو / اې تا aeto′/aetɑ′ | اې تو / اې تا aeto′/aetɑ′ | ستا stɑ′ |
| ۴ | اې تو سې aeto′se | اې تو سو / اې تا سو aeto′su/aetɑ′so | اې تو سو / اې تا سو aeto′su/aetɑ′so | ستاسو stɑ′so |
| ۵ | اې ميږ aemi′ʒ | اې مو aemo′ | اې مو aemo′ | زمونږ zamo′ng |
| ۶ | اغه/اغې aɣa/aɣe | اغه aɣa | اغه aɣa | هغه hə′ha |
| ۷ | زۀ zə′ | زۀ zə′ | زۀ zə′ | زۀ zə′ |
| ۸ | تۀ tə′ | تۀ tə′ | تۀ tə′ | تۀ tə′ |

پۀ دې مقاله کښې چې کوم لُغات مونږ پۀ ټېبلو کښې راوړل دا مونږ ټول د پې ايچ ډي مقالې (د پښتو ژبې د داوړوالې، اورکزۍ او بنګښ لهجې پرتليزه ژبنۍ (غړيزه) څېړنه) د پاره چې کومې انټروۍ د داوړو، اورکزيو او بنګښو قبيلو نه مونږ کړې وې دا لُغات مو د هغه انټرويو نه را ويستلي دي دا امکان لري چې د ذکر شويو لُغاتو نه علاوه به پۀ هر ټېبل کښې څۀ نه څۀ کمې د لُغاتو راغلې وي خو دا به پۀ انټرويو کښې د هغه لُغاتود نشتوالي له وجې وي ځکه چې مونږ دا ټول لُغات د هغه انټرويو را اخستي دي

# حوالې

۱. احمد زیار، پوهاند، دوکتور، پښتو ویپوهنه او ویر غاونه، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ لمریز، ص ۴۷-۴۸

۲. بُشری اکرام، ډاکټر، ژبپوهنه، پېښور: پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ ء، ص ۲۱۶-۲۱۷

۳. قانع، پوهنیاررحمان الله، ژبپوهنیزې نومونې (ماسترۍ تیزس)، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۷ل۲۰۱۸ء، ص ۱۵۱

۴. فرید صحرائي، پښنو لُغت دریاب، مؤلفین قلندر مومند، فرید صحرائي، پېښور، این ډبلیو ایف پي ټېکسټ بُک بورډ، ۱۹۹۴ء/۱۴۱۵ه، ص (ب)

۵. پښتو اکېډمي لُغت، اول ایډیشن، مؤلفین، ډاکټر خیال بخاري ....، ترتیب او سمونه، پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر، پېښور، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸ء/۱۴۴۰ ه

۶. احمد زیار، پوهاند، دوکتور، پښتو ویپوهنه او ویر غاونه، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ لمریز، ص ۷۱

۷. قانع، پوهنیاررحمان الله، ژبپوهنیزې نومونې (ماسترۍ تیزس)، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۷ل۲۰۱۸ء، ص ۱۵۳

۸. ریښتین، صدیق الله، پښتو ګرامر (ژباړن) سید محي الدین هاشمي، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۴ء، ص ۴۰۸